مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست
۲۰۲۶/۱۰/۲۶

# مبارکي

مولوي حسام الدین حسام صیب، ته مي ویل: مبارک سه!
نرۍ موسکا یي وکړه: د څه شي مبارکي؟
که ما کومه وظیفوي ارتقاء کړي وي او یا کوم بل قریب شیخ ته مي کوم منصب عطا سوی وي؛ نو دا اوس عادي خبره ده او مبارکي یي بې خونده تکرار دی.
ما چي به درته ویل مکتب مه وایه، دا مباح تعلیم په درد نخوري، نه دي منله. اوس ګرځه وزګار.
ما ویل: دا تقریر پریږده. ګاونډ کي دي یو سړی د ۵۸ اولادونو پلار دی او که د تولید پروسه کي یې تخنیکي ستونزه رانسي، نو د کرکیټیانو په اصطلاح، سینچري وهي!
لږ غلی سو او بیا یي وپوښتل:
څو مایني یي دي؟
ما ویل: څلور.
کټ کټ خندا یي وکړه:
و نالایقه! مکتب دي ویلی او په تقسیم خبر نه یي.
۵۸ چي په څلورو تقسیم کړي ۱٤.۵ کیږي؛ اولادونو کي هم اعشاریه وي؟
ما ویل خوار نسي؛ د دې دا مانا نه ده چي ټولو میرمنو دي مساوي زیږون کړی وي.
سړی غوسه شو: نو بیا خو یي عدالت نه دی مراعت کړی په حالت د هم بستری کي!
ما ویل دا څه په ګډوډو سر یې؟
مبارک، خپه سو: د یو عالم وینا درته ګډي وډي ښکاري؟ چي داسي یي ګڼې؛ ولي له ما سره دا بیهوده مباحاثات کوې؟ ما سره څه ربط لري؟
ما ویل: تاسره بلکل ربط لري. مسایل ژور نه تشریح کوی.
بس همدا مقتدیانو ته وایي چي اسلامي امت باید زیات سي. پر کمیت خبرې کوی؛ خو کیفیت مو هېر دی.
دا بیچاره پلار اوس بغاري وهي چي بچیان مي وږي دي.
باید خلک وهڅوي چي ډېرو ولادتونو ته خوشاله نسي. بلکي د هغوی د سالمي روزني په فکر کي سي .
سړی غلی و. بیا یي ویل:
دا کفري نړی به په څه بیرو؟
ما ویل: اوس د لښکرو سیاهي مهمه نه ده. پر علم او تکنالوژۍ تسلط مهم دی. وګوره یو موټی اسرائیل د ټولي اسلامی نړۍ په موجودیت کي غزه لوټي لوټي کړه. غزه یي د خپلو بیوزلو ښاریانو په وینو ولمبوله؛ خو څوک یې د څواب نسته. تشه ننداره روانه ده.
مبارک تر ډېره خاموش و. ما ویل که بیده سو. ږغ مي پري وکه. راته ویل یې:
پرون له سهار لمانځه وروسته مي خوب لیده.
ما ویل بس کړه، نور له ډېرو خوبونو اورېدلو ستړي یوو.
سړی خوا بدی سو، سوړ آسویلی یي وکړ:
زما خوب بختور و! خوب مي لیده چي ګرده نړی مي فتح کړي وي.
ما ویل: واه
چي وېښ شوې، څه کیسه وه؟
مبارک په غمجن انداز وویل:
کور کي یي راته ویل: وړه، غوړي، بوره، پټاټې، پیاز... نسته او میلمانه هم راروان دي.
نور یي ږغ خاموش شو .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنی د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ